نظرمحمد مطمئن ۲۰۱٦/۰۷/۱۳

# ناټو کانفرانس

## مشروط سړی نه کامیاب او نه هم ناکام شو

په ۱۹۷۹ز. کال کې د وارسا تړون په افغانستان د جګړې ننګه کوله، په افغانستان کې یې بشپړ ۱۰ کلونه خپل عسکر وجنګول، مړه او ژوبل یې کړل، د خپلو عسکرو کورنی یې د غم پر ټغر کینولې، او نږدې ۱,۵ میلیونه افغانان یې شهیدان او نږدې ۲ میلیونه معیوب او په میلیونو افغانان یې بې کوره او مهاجر کړل.

په ۲۰۰۱ ز.کال اکتوبر میاشت کې امریکا د ناټو په سرمشرۍ او ملګرتیا پر افغانستان جګړه پیل کړه، بشپړ ۱۵ کلونه د جګړې تېر شول، امریکایي عسکرې له افغانانو سره وجنګول، مړه او ژوبل یې کړل او د خپلو عسکرو کورنی یې د غم پر ټغر کینولې، نږدې دوه لکه افغانان یې ووژل، تر دې زیات یې ژوبل او کور پرېښودلو ته مجبوره کړل، او د ګوانتانامو او باګرام بدنام زندانونه یې پر افغانانو ډک وو.

د امریکا په تاریخ کې اوږده جګړه، تر ۱۵ کلنی اوږدې جګړې وروسته به هم امریکا افغان امنیتي ځواکونو ته نغدي پیسې د هغوی د معاش او مصارفو لپاره ورکوي. هغه ناټو چې د افغان امنیتي ځواکونو په لیکو او مصارفو کې یې د روڼتیا غوښتنه کوله، د غني په نږدې دوه کلنه موده کې لا هم فساد او اختلاس په خپل حال پاتې دی.

### د جګړې دوام او لګښتونه

تر ۲۰۲۰ ز. کال پورې به افغان ځواکونه اټکل ۱۵ بیلیونه امریکایي ډالر لګښت ولري، چې ۱۰,۵ بیلیونه ډالر به امریکا ورکوي، پاتې به یې د ناټو نور هیوادونه ورکوي، تر څو افغان حکومت خپلو امنیتي ځواکونو ته پرې د موټرو او الوتکو روغنیات، وسلې او نظامي تجهیزات رانیسي چې د طالبانو سره جګړه وکړي.

په تیرو ۱۵ کلونو کې افغان حکومت په بیلیونو ډالر حیف میل کړل. امنیتي ځواکونو کې هم د پیسو د حیف او میل خورا لوی فساد شوی دی، خو داخل یې د تیر په خیر د ناټو غړو هیوادونو پوښتنه ونه کړه، او نه یې هم د خپلو پیسو د لګښت حساب وغوښت.

ناټو هیوادونو شک درلود چې یواځې د کاغذ پرمخ ۳۵۲۰۰۰ اردو او پولیس شته، ولې په عملي ډګر کې ډېر خیالي عسکر او پولیس هم راپور ورکول کیږي، چې ښه بېلګه یې په وروستیو وختونو کې د هلمند د خیالي پولیسو راپور ګڼلای شو.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

تیر کال ناټو په ځینو معیارونو خبره کوله چې افغان حکومت یې باید پوره کړي، مګر هغه عملي نه بریښېدل، ځکه خو داخل وارسا کې ناټو د حساب ورکوني د رونوالي پر معیارونو ټینګار ونه کې.

ناټو له افغان حکومت څخه غوښتې وو چې د اداري او مالي فساد په وړاندې جدي او عملي اقدام وکړي، ولې حکومت ونه توانیدی، دا ډول که نوي ژمنه شوي پیسې افغان حکومت ته ورکول کیږي، په دې اړه هم د کوم جدي اقدام غوښتنه داخل نه ده شوي، داځکه هرڅه نادیده ونیول شوه چې حکومت په بیړني (ایمرجنسي) حالت کې دی، د خپل پاینت اړوند مرستو ته اړتیا لري، نو ځکه د ناټو معیارونه جدي ونه نیول شوه، یواځې د هیلي تر حده وو چې د ناټو د رونوالي او فساد سره د مبارزې معیارونه به عملي کیږي. شرط ونه ګڼل شوو.

اوباما په ۲۰۱۴ کال کې د امریکایي پوځیانو د شمیر کمولو وعده وکړه، مګر داخل یې له ناټو کانفرانس څخه لږ مخکې اوپه ناټو کانفرانس کې وویل چې ۸۴۰۰ امریکایي پوځیان به په افغانستان کې پاتې کیږي، اوباما امریکایي عسکرو ته د جګړې کولو او زیات واک کولو اعلان هم وار له مخه کړي وو، بلخوا بیا ناټو هیوادونو ژمنه وکړه چې ۶۰۰۰ پوځیان به په افغانستان کې د ۲۰۱۷ ز. کال تر پایه پورې ولري.

په ټولیز ډول د ځینو راپوروونو پر اساس پنټاګون او د امریکا بهرنیو چارو وزاتونو له ۱۱/۹ وروسته په افغانستان کې ۷۸۳ بیلیونه ډالر مصرف کړي، دا مصارف د امریکایي عساکرو او ډیپلوماتو له خوا شوي، که دا لړۍ دوام پیداکړي نو تر ۲۰۲۰ ز. کال پورې به د امریکا پوځي لګښتونه په افغانستان کې اټکل ۱,۸ ټریلون ته ورسیږي.

ناټو کانفرانس کې د ګډ حکومت مشرانو دوې مهمې لاسته راوړنې درلودلې، تر ۲۰۲۰ ز. کال پورې یې د جګړې او خپلو امنیتي پوځیانو مصارف په امریکا او ناټو ورومنل، دا هغه څه دي چې د ګډ حکومت مشرانو ته نوي او تازه ځاه ورکوي.

دا ډول د پاکستان اړوند غني د ناټو کانفرانس کې وویل چې پاکستان د سولې اړوند پر خپلو ژمنو وفا ونه کړه او په دې برخه کې مرسته نه کوي، هغه وویل چې له پاکستان پرته د سیمې ټول هیوادونه د افغانستان سولې اړوند همکاري کوي. د ګډ حکومت مشرانو وکولای شوو چې نړیوال د پاکستان پر دوه مخې لا شکمن کړي.

## د افغان جګړې د ختمولو ستراتیژي نشتون

د امریکایي پوځیانو مشر په دې ګروه دی چې طالبان به په راتلونکي کې تر فشار لاندې وي، ځکه اوباما امریکایي پوځیانو ته زیات واکونه ورکړل او په جګړه کې به د افغان امنیتي کسانو سره یوځای برخه اخلي.

د افغان جګړې د ختمولو ستراتیژي باندې لاهم هیڅ لوري فکر نه دی کړی، امریکایي چارواکي پرې نه پوهیږي او نه هم وړاندیز شوی، نه هم ناټو همدې ټکي ته فکر کوي.

افغان چارواکي خو فکر کوي چې امریکا به یې ملاتړ کوي او د جګړې د ختمیدو اړوند کوم رغنده او ژور فکر نه لري، ځکه د ځینو یې په جګړه کې ګټې دي.

بلخوا بیا طالبان هم د افغان جګړې د ختمیدو اړوند کومه واضح تګلاره نه لري، او نه یې هم په دې اړه افغان ولس ته وضاحت ورکړی.

د جرمني صدراعظمې انګیلامیرکل وېلي چې د افغانستان د جګړې او شخړې څخه د وتلو له پاره ، د جګړې پرځای د سیاسي حل اړوند له طالبانو سره د سولې خبرې مهمې دي.

تر څو چې د جګړې د ختمیدو پر ستراتیژي کار ونه شي، د جګړې پر ځای سیاسي حل ته ښکېل جهتونه مخه نه کړي، د افغانستان سیاسي، اقتصادي او امنیتي حالت به خرابي لورته روان وي.

## اشرف غني مشروط که ناکام؟

افغان جګړه ګټونکي نه لري، جګړه به اوږدیږي، او یکې قرباني به افغانان وي، د افغان ولس توقع وه چې غني به د جګړې پرځای د سولې لپاره ټینګه اراده ولري، ولي د ناټو کانفرانس له پریکړو ښکاري چې په سیمه کې جګړې ته لمن وهل کیږي او تر ۲۰۲۰ ز. کال پورې به جګړه د اوس په ډول روانه وي، بالاخره به همدا جګړه پر یوې بشپړې خپلمنځي افغان جګړې اوړي او افغانان به یکې وژل کیږي، بهرنیان به یې ننداره کوي.
ولسمشر غني وعده کړې وه که ۶ میاشتې کې د افغانستان حالات مثبت بدلون ونه موند، استعفا به ورکوي، نه داچې مثبت بلکې منفي تغیر یې د کرزي د وخت په پرتله زیات لیدل کیږي، د سولې پرځای دښمني، د امنیت پر ځای نا امني او اقتصادي ځوړتیا هم ورځ تر بلې زیاتیږي، مګر د غني خپله وعده او ژمنه هیره شوې.
غنی د ملي شورا له وکیلانو سره ژمنه وکړه که هر وزیر یې اهل نه وو، درې میاشتې وروسته به یې لیرې کړي، له وزیرانو یې درې میاشتني کاري پلانونه وغوښتل، مګر نه کوم وزیر لیرې شو، او نه هم د هغوی کاري پلان تطبیق شو، هر څه یواځې د ژمنو تر حده او د وزیرانو کاري پلانونه د کاغذ پرمخ همداسې پاتې شوو. تر دې چې غني ونه توانیدی د عطاء محمد نور له خوا معرفي شوی د پوهنې نالایق وزیر لیرې او یا خو تبدیل کړي.غني وعده کړې وه چې سرپرست والیان به لیرې کړم، مګر لیدل کیږي چې ځینې سرپرست والیان ولسمشر ته ګوت څنډني کوي.
بلاخره خپله ولسمشر د روان تعلیمي کال د پیل په ورځ وویل چې زه مشروط یم، د ولس سره مشروط، د ملي شورا سره مشروط، د پوهنې او اقتصادي کارپوهانو سره مشروط، د سولې او جګړې په ډګر کې مشروط، د ناټو سره مشروط، ولي بیا هم دغه مشروط سړی نه کامیاب او نه هم ناکام شو، نه یې هم د استعفی جرائت وکړ.

## ځوان نسل مو د بلې جګړې قرباني کیږي

غني، عبدالله او د ګډ حکومت چاروکي دي د څو شیبو له پاره فکر وکړي که فرض کړو افغانان هم د جاپانیانو په ډول د امریکا هرڅه ومني، له امریکا او ناټو سره له دښمنۍ څخه لاس واخلي، ګرده طالبان په کور ارام کښیني، آیا په ګران هیواد او سیمه کې به ارامي راشي؟ نه، هیڅکله هم نه، ځکه دلته دامریکا اهداف معلوم دي چې له افغانستان څخه چین، روسیه او منځنۍ اسیا تهدید کړي.
دلته به د داعش په نوم، دلته به د القاعده په نوم، دلته به د لښکرطیبه په نوم، د طالبانو څخه د جلاشوو ډلو په نوم، دلته به په بېلابېلو نومونو نورې ډلې راپیدا کوي تر څو جګړه دوام پیداکړي او سیمه ارامه نه شي، دامریکا او روسیې سیالي، د امریکا او چین سیالي، د هند او پاکستان سیالي ، د ایران او پاکستان سیالي ، د ایران او سعودي سیالي ، د ګردو د سیالۍ میدان به افغانستان وي، قربانیان به افغانان وي، د جګړو له امله ګټې به یې ګاونډیو او نړیوالو هیوادونو ته ځي.
لویدیځ او لویدیځ پلوه افغان چاروکي فکر کوي چې د طالبانو اړوند په ځوانانو کې نفرت د ټلویزونو د اعلاناتو او په ګردي میزونو کې پر طالبانو بد ویلو له امله زیاتیږي، سمه ده په ښارونو کې تر ډیره په ځوان نسل کې دا کار وشو، خو د لویدیځ او لویدیځ پلوو افغانانو بیا فکر نه دی چې برعکس په لیرې پرتو او کلیوالو سیمو کې د لویدیځ پلوو او

سیکولر ځوانانو اړوند نفرت مخ په زیاتیدو دی، نتیجه به داوي چي موږ یو بل ځوان نسل دواړو لورو ته د راتلونکو جګړو لپاره په لوی لاس عمدا چمتو کوو، بیا به طالب پلوه او لویدیځ پلوه  افغان ځوانان خپلو منځو کي په جګړو بوخت وي.

## غني او عبدالله د بایللي جګړې ګټلو تمه کوي

کله چي روسان له افغانستان څخه ووتل مجاهدین کمزوري ځکه شول، چي ځینو یې ویل چي نور جګړه په کار نه ده، راځي له ډاکټر نجیب سره خبرو ته کښینو، او افغان وژنه بس کړو، مګر ځینو یې په جګړه اصرار کاوو، کله چي امریکا او ناټو د خپل پوځي ماموریت د ختم اعلان وکړ، اوباما د خپلو پوځیانو د ایستلو وعده وکړه، له دي سره سم په افغانانو کي همدا خبره راپورته شوه چي جګړه افغاني کیدو لورته روانه ده، او مخنیوی یې په هر ډول چي وي په کار ده، ولي داچي اوباما او د ناټو سرمنشي بیاځل افغانستان ته د بهرنیو ځواکونو د راالیږلو اعلان کوي، نو طالبانو ته هم د جګړې د دوام پلمه او مورال ورکوي.

وایي که دنړي په رهبرانو او مشرانو کي ځیني یې لیونیانو ته ورته ځیني کارونه ونه کړي، نو دا دنیا به دومره په زړه پوري نه وای، بوش لیونتوب وکړ، ټوني بلیر لیونتوب وکړ، کرزي د قدرت او واک هوس وکړ، او غني لګیا دی لیونتوب کوي، په هیواد کي په جګړه اصرار کوي، د بهرنیو ځواکونو په شتون او ډیربښت خپل افغان ولس ننګوي.

غني او عبدالله د هغي بایللي جګړې د ګټلو تمه لري چي ۱۵ کلونه نږدې نیم میلیون بهرنیو او کورنیو پوځیانو مهار نه کړای شوای، امریکایي څلور ستوري والا جنرالان یو په بل پسي ناکام بیرته ستانه شول، جګړه یو طرفه نه شوه. نه خو طالب ورک شو، نه القاعده ورکه شوه او نه هم  د افغان کورته سوله او امنیت راغی، او نه هم د ملکي کسانو مرګ  ژوبله ودریده. او نه هم د افغان امنیتي ځواکونو مرګ ژوبله په تیرو ۱۵ کلونو کي له یو کال مخکي نه کمه شوه، بلکي دغه تعداد هر کال وروسته زیاتیږي.

وړاندیز مي دادی چي افغان سیاستوال نور د جګړې پرځای د سولې لپاره هڅې وکړي، ولس له خپلمنځي افغاني جګړې څخه خوندي کړي، امریکا او ناټو ته نور بازي ورنه کړي، په فساد او اختلاس ککړ خلک نه حکومتي سیستم جوړولای شي او نه هم جګړې ګټلای شي. نظرمحمد مطمئن لیکوال او شنانند

(ځیني معلومات د تیم کریګ لیکنه واشنګټن پوسټ څخه را اخستل شوي)